**د دوسيې او مسئول چارواکي اړوند معلومات:**

د دوسيې شمېره: ___________________________________

د مسئول چارواکي نوم: _______________________________

**ډيپارټمېنټ:** _______________________________________

__________________________، Vermont __________

802-______-__________

**د ايالت لوبه څارنوالي – کاونټي:** _____________________

_______________________________________________

__________________________، Vermont __________

802-______-__________

***د مشکوک په اړه معلومات:**

د تورن کس نوم: ________________________________________

نيول شوی دی: ______هو______نه

د استناد په اساس به آزاد شي: ______هو______نه

د حکم د صادور نېټه: _________________________________________

معلومات د لاندې دلایلو له امله پټ ساتل کېږي: ____________________

_______________________________________________

***یوازې د بالغ مجرم یا "لېست شوي" جرم - 33 VSA 5204(a) په صورت کې یې ډک کړئ**

## په VERMONT کې د جرم د قرباني په توګه ستاسو حقونه

---

د جرم د قرباني په توګه، د قرباني شوي کس د کورنۍ د غړي په توګه، تاسو کېدی شي د ګيچتوب، بې وسۍ، غوسې، يا حتی د ډار احساس وکړئ. ستاسو د مرستې لپاره وړيا خدمات شتون لري. ګڼ شمېر خلک په دغه سيستم کې کار کوي چې ستاسو پالنه کوي او له تاسو سره مرستې ته ژمن دي. **د جرم د قرباني په توګه، تاسو ځينې حقونه لرئ!**

### د انتخاب حق

- تاسو د دې انتخاب حق لرئ چې که چېرې ستاسو دوسيه مخ ته لاړه شي تاسو به څنګه ګډون کوئ.
- تاسو بايد د محکمې له اطاق يا د شاهدۍ له سوګند څخه د باندې د هېچا هېڅ ډول پوښتنې ته ځواب ونه وايئ. د شاهدۍ پاڼه داسې يوه رسمي پروسه ده چېرې چې تاسو ثبت شوی، د شاهدۍ سوګند ورکوئ.

### د وکالت حق

که چېرې تورن کس متهم وګڼل شي، تاسو ته به د ايالت د لوبې څارنوالۍ له خوا د قرباني په توګه مدافع وکيل وټاکل شي. ستاسو مدافع وکيل کولای شي تاسو ته مرسته او معلومات چمتو کړي او په لاندې برخو کې کومک درسره وکړي:

- په خپلو حقونو باندې پوهېدل؛
- د کاغذي کارونو بشپړول؛
- د جرم اړوند په شرايطو د برابرو زيانونو لپاره د مالي ملاتړ غوښتنه؛
- د قوانينو له تنفيذوونکو مراجعو او وکيلانو سره اړيکه نيول؛ او
- د محکمې د جراآتو په اړه تاسو ته خبر درکول.

**ستاسو لپاره مدافع وکيل شتون لري!** د هر ډول پوښتنې يا انديښنې د لرلو په صورت کې کولای شئ له هغوی سره اړيکه ونيسئ.

### د خونديتوب حق

که تاسو د خپل خونديتوب په اړه انديښنه لرئ، لومړی د قانون له تنفيذوونکې مرجع سره اړيکه ونيسئ. بيا خپل د قرباني مدافع وکيل ته زنګ ووهئ. **هغوی کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي!**

### د دې حق لرل چې غږ مو واورېدل شي

که وغواړئ، د دې حق لرئ چې د محکې په پروسه کې خپل نظر اظهار کړئ. په دې کې د قربانيانو له خپل مدافع وکيل سره ستاسو د فکرونو شريکول، د قربانيانو د اغېزو بيان ليکل، او د محکوميت پر مهال مخکې ته خطاب کول شاملېږي.

**مالي مرستو ته د لاسرسي حق**
د قربانيانو د جبران پروګرام د جرم د قربانيانو لپاره محدودې مالي مرستې چمتو کوي. مالي زيان بايد د جرم په مستقيمه نتيجه کې رامنځ ته شوی وي او د بيمې په شان د بلې سرچينې له خوا تر پوښښ لاندې نه وي نيول شوی. تاسو ممکن د شاهد فيسونه او ترانسپورتي لګښتونه ترلاس کړئ، که چيرې تاسو د شاهد په توګه راوبلل شئ يا درته امر وشي چې محکمې ته حاضر شئ. د لا زياتو معلوماتو لپاره د دغه پروګرام په هکله، د جرم د قربانيانو د خدماتو لپاره د ورمونټ له مرکز سره په 800-750-1253 شمېره اړيکه ونيسئ.

*تاسو حق لرئ چې د خسارې د جبران غوښتنه وکړئ!* محکمه کولای شي د تورن کس د جزا د برخې په توګه، د غير بيمه شوو زيانونو د جبران حکم صادر کړي. دا ډېره مهمه ده چې خپل ټول رسيدونه وساتئ. ستاسو د قربانيانو مدافع وکيل کولای شي ستاسو د ادعا په اړه له تاسو سره مرسته وړي، يا تاسو کولای شئ د خسارې د جبران له څانګې سره په 4688-241 (802) شمېره اړيکه ونيسئ.

**معلوماتو او خبرتيا ته د لاسرسي حق**
که چېرې تورن کس متهم وګڼل شي، تاسو حق لرئ چې د خپلې دوسيې له پرمختګ سره سم خبرتياوې ترلاسه کړئ – حتی وروسته له دې چې قضيه مو حل شي. تاسو ډېر نور حقونه هم لرئ. ستاسو لپاره د شته حقونو کچه د هغه جرم په ډول پورې اړه لري چې په تاسو باندې يې تور لګول شوی دی. معلوماتو او خبرتياوو ته د لاسرسي د حق په اړه خپل د قربانيانو مدافع وکيل وپوښتئ ترڅو تاسو په دې پوه شئ چې بايد څه تمه ولرئ. ستاسو مدافع وکيل کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو په دې پوه شئ چې ستاسو لپاره ګزينې څه دي.

تاسو همدارنګه د خپلې دوسيې اړوند ځينو سوابقو يا ريکارډونو ته د لاسري حق لرئ. د ډېرو معلوماتو لپاره په دغه فورمه کې د قانون د تنفيذ له څانګې سره اړيکه ونيسئ.

---

## د کورني تاوتريخوالي او جنسي تاوتريخوالي قربانيان اضافي حقونه لري

د ورمونټ شبکې ستاسو محلي پروګرام د کورني او جنسي تاوتريخوالي له قربانيانو څخه ملاتړ کوي. په دغه ملاتړ کې کېدی شي لاندې موارد شامل وي: وړيا او محرم 24/7 تلفوني ملاتړ، د قانوني سيستم، مالي، طبي او شخصي طبي وکالت په برخه کې مرسته، د بېړنۍ سرپناه په موندلو کې مرسته، او د خونديتوب د حکم په ثبتولو کې مرسته. که تاسو د جنسي تاوتريخوالي قرباني ياست، ستاسو لپاره له هر ډول لګښت پرته اضافي خدمات شتون لري. تاسو اړ نه ياست چې د جرم په اړه راپور ورکړئ. د خپلې محلي شبکې له پروګرام سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ.

**د کورني او جنسي تاوتريخوالي پر وړاندې د Vermont شبکه**

**د کورني تاوتريخوالي 24 ساعته تلفوني خدمات: 1-800-228-7395**
**د جنسي تاوتريخوالي 24 ساعته تلفوني خدمات: 1-800-489-7273**

*تلفوني کرښې له محدودې استثنی سره محرمې دي.*
*د دغو استثناوو په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره لومړی د خپلو اندېښنو په اړه له تلفوني کرښې يا خپل مدافع وکيل سره خبرې وکړئ.*

**زما د محلي شبکې پروګرام دی:** ______________________________

د خپلې شبکې د تر ټولو نږدې پروګرام په اړه ډېر معلومات له https://www.vtnetwork.org/ څخه ترلاسه کړئ

کولای شئ دغه فورمه په www.ccvs.vermont.gov کې هم وګورئ او د غوښتنې په صورت کې په نورو فارمټونو کې هم شتون لري. د لا زياتو معلوماتو لپارهد جرم د قربانيانو د خدماتو لپاره د ورمونټ له مرکز سره د لاندې ويب پاڼې يا 1-800-750-1213 شمېرې له لارې اړيکه ونيسئ.